# اساسنامه

## افغان اسلامي کلتوري مرکز،زوریخ

---

### ۱. د ټولنې نوم

دغه ټولنه د "افغان اسلامي کلتوري مرکز زیوریخ" تر نامه لاندې، د سویس د مدني قانون ۶۰ مادې سره سم، په زوریخ کې تأسیس شوه.

---

### ۲. هدفونه او موخې

- د زوریخ او شاوخوا سیمو کې د مېشتو افغانانو ترمنځ د همغږۍ، اړیکو او متقابل ملاتړ پیاوړتیا؛ د ګډ پلاتفورم له لارې د لیدو کتو، د تجربو د تبادلې او یووالي وده.
- د دیني مراسمو د ترسره کولو لپاره د عبادتځای جوړول او اداره کول، او د غړو ترمنځ د معنوي اړیکو لپاره د امکاناتو برابرول.
- د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ژبې او کلتور د زده‌کړې آسانتیاوې برابرول، او د افغانانو تر منځ د ملی ژبو او دودونو ترویج.
- د اسلامي او افغاني کلتوري پروګرامونو جوړول، د نورو کلتورونو او ادیانو سره د اړیکو ساتل، او د سویس ټولنیز ژوند سره د همغږۍ ملاتړ کول.
- د زغم، سوله‌ییز ژوند، متقابل درناوی او د ګډ ژوند ارزښتونو ترویج؛ او د تاوتریخوالي، افراطیت او سخت دریزۍ څرګند رد.
- ټولنه له سیاسي پلوه خپلواکه، بې‌طرفه او غیرګوندي ده.
- ټولنه د قانون له مخې د شتمنیو د اخیستلو، پلورلو، د کرایه کولو او د کرایه ورکولو حق لري.

---

### ۳. سرمایه (مالي منابع)

د ټولنې د اهدافو د پلي کولو او فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره لاندې مالي منابع کارول کېږي:

الف) د غړو حق‌العضویت.
ب) د ټولنې د پروګرامونو عواید.
ج) هغه اعانې او مرستې چې د اجرائیه هیئت له خوا منل کېږي.

د حق‌العضویت اندازه هر کال د عمومي مجلس له لوري ټاکل کېږي. د تاسیس په وخت کې، متغیرې میاشتنۍ ونډې (حق‌العضویت) منظورې شوې.
د ټولنې مالي کال د تقویمي کال سره برابر دی.

## ۴. عضویت

- هر هغه څوک چې د ټولنې له اهدافو او موخو سره علاقه او توافق ولري، کولای شي د ټولنې غړی شي.
- فعال غړي هغه اشخاص دي چې د ټولنې له پروګرامونو څخه استفاده کوي او کلنی حق‌العضویت په منظم ډول ادا کوي. فعال غړي د رای ورکولو حق لري.
- د عضویت غوښتنه هر وخت وړاندې کېدای شي. غوښتنلیک باید اجرائیه هیئت ته وسپارل شي، او وروستی پرېکړه د اجرائیه هیئت له لوري کېږي.
- عضویت په لاندې مواردو کې پای ته رسېږي:
  الف) د غړي د استعفا په صورت کې؛
  ب) د اخراج په صورت کې؛
  ج) د غړي د مړینې په صورت کې.

---

## ۵. استعفا او اخراج

- هر غړی کولای شي هر وخت د اجرائیه هیئت ته د لیکلي خبر له لارې له غړیتوبه استعفا ورکړي.
- د استعفا په صورت کې، د روان مالي کال د حق‌العضویت بشپړ مبلغ ادا کېږي او نه‌ستنیږي.
- غړی د لاندې مواردو له مخې د عضویت له حقه محرومېدای شي:
  الف) که د اساسنامې له احکامو سرغړونه وکړي.
  ب) که د ټولنې د اهدافو او ارزښتونو پر خلاف عمل وکړي.
  ج) که د اجرائیه هیئت پرېکړه د اخراج اړتیا تشخیص کړي.
- د اخراج پرېکړه د اجرائیه هیئت له خوا کېږي، او اړوند غړی کولای شي د عمومي مجلس له پرېکړې څخه د استیناف غوښتنه وکړي.

---

## ۶. د ټولنې ارګانونه

د ټولنې اصلي ارګانونه عبارت دي له:

الف) عمومي مجلس؛

ب) اجرائیه هیئت.

### الف) عمومي مجلس

۱. عمومي مجلس د ټولنې تر ټولو لوړه مرجع ده.

۲. عادي عمومي مجلس هر دوه کاله یو ځل، د جنورۍ او فبرورۍ ترمنځ، د اجرائیه هیئت له خوا رابلل کېږي.

۳. د مجلس د رابللو دعوت‌نامه او اجنډا باید له مخکې، په لیکلي بڼه یا د برېښنالیک/دیجېټلي وسیلو له لارې، ټولو غړو ته واستول شي.

۴. د غړو له‌خوا د اضافي وړاندیزونو وړاندې کول باید لږ تر لږه یوه اونۍ مخکې، په لیکلي ډول، د اجرائیه هیئت ته وسپارل شي.

۵. اجرائیه هیئت یا د ټولنې لږ تر لږه یوه پنځمه برخه غړي کولای شي د فوق‌العاده عمومي مجلس د رابللو غوښتنه وکړي.

**د عمومي مجلس دندې او صلاحيتونه**

۱. د تېر عمومي مجلس د پروتوکول تصويب.

۲. د اجرائيه هيئت د کلني راپور اورېدل او تصويب.

۳. د مالي راپور ترلاسه کول او د کلني حساب تصويب.

۴. د اجرائيه هيئت برائت (مالياتي او اداري تصفيه).

۵. د اجرائيه هيئت او د رئيس انتخاب.

۶. د حق‌العضويت اندازه ټاکل.

۷. د کلني بوديجې د راپور او مالي وضعيت په اړه پوهاوی ترلاسه کول.

۸. د فعاليتونو د کلني پروګرام تصويب.

۹. د اساسنامې د تعديل (تغيير) پرېکړه.

۱۰. د ټولنې د منحل کولو (لغوه کولو) او د شتمنيو د کاروني په اړه پرېکړه.

**د پرېکړو طريقه**

۱. هر قانوني رابلل شوی عمومي مجلس، پرته له دې چې د حاضرو غړو شمېر څومره وي، د پرېکړې صلاحيت لري.

۲. پرېکړې د حاضر غړو په مطلق اکثريت سره تصويبېږي.

۳. د اساسنامې د تعديل (بدلون) لپاره له درو نه د دو برخو(۲/۳) حاضرو غړو د اکثريت موافقه اړينه ده.

۴. د هر مجلس له پرېکړو وروسته، تصويب شوی پروتوکول بايد ترتيب او لاسليک شي.

**ب) اجرائيه هيئت**

۱. اجرائيه هيئت د پنځو (۵) غړو څخه جوړ دی.

۲. د هيئت د غړو د کار موده دوه (۲) کاله ده، او د بيا انتخاب امکان شته.

۳. اجرائيه هيئت د ټولنې د ورځنيو (روانو) چارو مسؤل دی او ټولنه په قانوني او رسمي ډول استازولي کوي.

۴. اجرائيه هيئت کولای شي د اړتيا پر اساس دايمي يا موقتي کميټې، کاري ډلې او تخصصي ډلې وټاکي.

۵. د اجرائيه هيئت دننه برخې عبارت دي له:
الف) رئيس،
ب) مرستيال،
ج) د مالي چارو مسؤول،
د) منشي.
د دندو يوځای ترسره کول (د مسؤوليتونو ترکيب) ممکن دی.

۶. هيئت، پرته له رياست څخه، خپل غړي پخپله ټاکي.

۷. د اړتيا له مخې، اجرائيه هيئت غونډې کوي. هر غړی کولای شي د غونډې د رابللو غوښتنه وکړي.

۸. د اجرائيه هيئت غړي خپل فعالیتونه داوطلبانه او بېمعاش ترسره کوي، خو د رسمي دندو اړوند لګښتونه (مصارف) ورکول کېږي.

---

## ۷. د امضاء حق

د ټولنې رسمي اسنادو د امضاء حق د رئیس او د اجرائيه هيئت د دوو نورو غړو ګډ امضاء ته محدود دی. دا امضاء رسمي اعتبار لري.

---

## ۸. مسئولیت

د ټولنې پورونو او مالي مکلفیتونو لپاره یوازې د ټولنې سرمایه مسؤله ده. د هیئت یا غړو شخصي مالي مسؤلیت شتون نلري.

---

## ۹. د شخصي حریم ساتنه

۱. ټولنه یوازې اړین شخصي معلومات راټولوي.

۲. د شخصي معلوماتو د امنیت مسؤلیت د اجرائيه هيئت په غاړه دی.

۳. د غړو شخصي معلومات باید د سویس د معلوماتو ساتنې قانون سره سم مدیریت شي.

---

## ۱۰. د ټولنې لغوه کول

۱. د ټولنې لغوه کول د عادي یا فوق‌العاده عمومي مجلس له خوا، له درو نه د دو برخو (۲/۳) حاضرو غړو د اکثریت رایو په اساس تصویبیږي.

۲. د ټولنې شتمنۍ د لغوه کېدو په صورت کې باید د سویس یا د افغانستان هغو موسسو ته انتقال شي چې له مالیې نه معاف دي او ورته اهداف ولري. د غړو ترمنځ د شتمنیو وېش منع دی.

---

## ۱۱. د اجرا اعتبار

دا اساسنامه په تاسیسي غونډه کې د ۲۰۲۵ کال د سپټمبر ۲۸مه تصویب شوې او له همدې نېټې نافذه ده.

تاریخ او مکان: ____________________

رئیس: ____________________ منشی: ____________________